# صوبائی اسمبلی شمال مغربی سرحدی صوبہ

## مباحثات

---

بروز جمعہ مورخہ 18 جون 1999

(بمطابق 3 ربیع الاول 1420 ہجری)


جلد 16 شمارہ 2


سرکاری رپورٹ

مندرجات صفحہ نمبر


1۔ تلاوت کلام پاک اور اس کا ترجمہ 1

2 ۔ معزز اراکین کی رخصت 2

3 ۔ بجٹ پر عام بحث 2

# صوبائی اسمبلی شمال مغربی سرحدی صوبہ

اسمبلی کا اجلاس، اسمبلی چیمبر پشاور میں بروز جمعہ مورخہ 18 جون 1999ء بمطابق 3 ربیع الاول 1420ھ صبح دس بجکر تین منٹ پر منعقد ہوا۔

جناب قائمقام سپیکر، حاجی محمد عدیل مسند صدارت پر متمکن ہوئے۔

---

## تلاوت کلام پاک اور اس کا ترجمہ

اَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ۔ بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

وَ مَنْ اَعْرَضَ عَنْ ذِکْرِیْ فَاِنَّ لَہٗ مَعِیْشَۃً ضَنْکًا وَّ نَحْشُرُہٗ یَوْمَ الْقِیٰمَۃِ اَعْمٰی ہ قَالَ رَبِّ لِمَ حَشَرْتَنِیْٓ اَعْمٰی وَ قَدْ کُنْتُ بَصِیْرًا ہ قَالَ کَذٰلِکَ اَتَتْکَ اٰیٰتُنَا فَنَسِیْتَہَا ج وَ کَذٰلِکَ الْیَوْمَ تُنْسٰی ہ وَ کَذٰلِکَ نَجْزِیْ مَنْ اَسْرَفَ وَ لَمْ یُؤْمِنْۢ بِاٰیٰتِ رَبِّہٖ ط وَ لَعَذَابُ الْاٰخِرَۃِ اَشَدُّ وَ اَبْقٰی ہ اَفَلَمْ یَہْدِ لَہُمْ کَمْ اَہْلَکْنَا قَبْلَہُمْ مِّنَ الْقُرُوْنِ یَمْشُوْنَ فِیْ مَسٰکِنِہِمْ ط اِنَّ فِیْ ذٰلِکَ لَاٰیٰتٍ لِّاُولِی النُّہٰی ہ صَدَقَ اللّٰہُ الْعَظِیْمُ ہ

(پارہ 16- سورۃ طه آیات: 123 تا 128)

(ترجمہ) او څوک چه زما د نصیحت نه مخ واړوی نو د هغه ژوند به لنډ تنګ وی او د قیامت په ورځ به هغه د قبر نه په ړندو ړوند را پاڅوو. هغه به وائی چه اے زما پروردګاره دا تا زه ولے ړوند راپاڅولم، زه خو سم دم د سترګو خاوند ووم- الله به ورته اووائی چه دغسے تا ته زما نښے درسیدلے وے خو تا د هغے پرواه او نه ساتله او دغسے به نن ته هم هیر کړے شے او مونږ دغسے هر هغه سړی له سزا ورکوو چه هغه د حد نه وړاندے تیر شی او د خپل پروردګار آیتونه او نه منی او د آخرت عذاب خو ډیر سخت او باقی پاتے کیدونکے دے، ښه اګنی دوئ د دے نه هم سبق وانخستو چه مونږ تر اوسه د دوئ نه ړومبے څومره ډیر ټولی تباه کړی دی چه د هغوی په کورونو کښې (اوس) هم دوئ ګرځی راګرځی- بیشکه په دیکښې د پوهے خاوندانو له ډیرے ډیرے نښے پرتے دی-

## معزز اراکین کی رخصت

جناب قائمقام سپیکر۔ ان معزز اراکین اسمبلی نے رخصت کیلئے درخواستیں ارسال کی ہیں، جناب طارق خان سواتی صاحب نے آج کیلئے اور جناب عاشق رضا سواتی صاحب نے اٹھارہ اور انیس جون کیلئے۔ آیا ان کی رخصت کی درخواستیں منظور کی جائیں؟

(تحریک منظور کی گئی۔)

جناب قائمقام سپیکر۔ ان کی درخواستیں منظور کی جاتی ہیں۔

Mr. Abdul Subhan Khan(Minister for Information): Point of order, Sir.

Mr. Acting Speaker: After my announcement, please. In pursuance of sub rule (3) of rule 142 of the Provincial Assembly of North West Frontier Province Procedure and Conduct of Business Rules, 1988, I fix time limit for not more than ten minutes for every Member who wants to take part in the general discussion on the annual budget. The time limit has been fixed in the interest of the honourable Members, in order to give opportunity to maximum Members of this august House. However, the Leader of the House, the Leader of the Opposition and the other Parliamentary parties' Heads are exempted from time limit. Thank you. Janab Subhan Khan, please.

وزیر اطلاعات: شکریه، سپیکر صاحب۔ ممتاز حسین راتهور، د آزاد کشمیر سابقه سپیکر، حق رسیدلے دے جی۔ د هغه په حق کښې به دعا اوکړئ جی۔

(اس مرحلے پر دعائے مغفرت کی گئی۔)

## بجٹ پر عام بحث

جناب قائمقام سپیکر۔ معزز اراکین! اس سے قبل کہ ہم Annual budget پر بحث شروع کریں، میری استدعا ہے کہ جب کوئی معزز رکن بحث میں حصہ لے رہا ہو تو

آف
پوائنٹ آرڈر پر کوئی ممبر کھڑا نہ ہو۔ اگر کوئی پوائنٹ آف آرڈر ہے یا کوئی Personal explanation ہے تو بہتر یہ ہے کہ جب معزز رکن اپنی تقریر ختم کر لے تو اس کے بعد آپ بے شک اٹھیں۔ اگر رکن اسمبلی کی تقریر کے دوران کسی نے پوائنٹ آف آرڈر پر بات کی تو پھر ہاؤس Proper طریقے سے نہیں چل سکے گا۔ تو میری یہی استدعا ہے' شکریہ۔ اب میں مُور بی بی' محترمہ بیگم نسیم ولی خان صاحبہ سے استدعا کروں گا کہ وہ لیڈر آف دی اپوزیشن کی حیثیت سے Annual budget میں حصہ لیں۔ (تالیاں)

بیگم نسیم ولی خان، بسم الله الرحمان الرحیم۔ شروع کوم په نامه د خدائے چه ډیر مهربان او رحیم دے۔ محترم سپیکر صاحب! د تقریر شروع کولو نه مخکښې ستاسو په وساطت د عورت فاونډیشن یو Delegation چه ناست دے، هغوی ته پکار دی چه هر کلے اوونیلے شی۔ اخوا نور معزز ممبران هم ناست دی۔ زه ډیره زیاته مشکور یم ستاسو چه تاسو د خسیسکالے بجټ، د کال 2000-1999 کوم بجټ پیش شوے دے په هاؤس کښې، په هغے د Debate شروع کولو ما له دعوت راکړو، زه ستاسو ډیره مشکوره یمه۔ حقیقتاً چه ورته اوګورئ هر کال چه مونږ اودریږو نو هم یوه خبره کوؤ او هغه خبره دا کوؤ چه روایتی بجټ پیش شو۔ حکومت وائی چه مونږ ډیر ښه بجټ پیش کړو، Surplus budget مو پیش کړے دے او مونږ اودریږو او مونږ روایتی بجټ یادوؤ۔ نو زه دا کوشش کومه چه زه دا خبره معلومه کړم چه دا مونږ خلق ولے دا وایو چه روایتی بجټ دے؟ هر ځل دا خبره کوؤ۔ قوم هم په دے باندے حیران دے چه مونږه اودریږو او مونږه وایو چه روایتی بجټ دے او هغه وائی چه تاسو آخر هغه روایات راته اوښایئ۔ نو دے پسے ما کوشش اوکړو، پروسکنے بجټ تقریر مے د چیف منسټر صاحب را واخستو، چه هغه فنانس منسټر هم دے او سکالنے مے را واخستو، تاسو به یقین اونکړئ چه ما سوا د خنو اعداد و شمارنه چه هغه اخوا دیخوا شوی دی، چرته کم شوی دی او چرته زیات شوی دی، داسے څه شے ما او نه لیدو چه په دے بجټ کښې یو نوے څیز، سرے ورته اووائی چه یو تناظر راغلو یا یو نوے شے راغے یا یو جدت راغے یا مونږ یو رُخ معلوم کړے شو، مونږ د خپلو پالیسو تعین اوکړو او مونږ د خپل اقتصادی پالیسو د پاره یو لارغوره

کړله خکه چه که روایتي بجټ پروسکال پیش شوے دے نو پروسکال چه کوم حالات تیر شوی دی، هغه ستاسو د وړاندے دی۔ زه پرے لږه رڼرا اچومه۔ نو چه دا ټول حالات مے اوکتل نو زه په دے خبره باندے ډیره زیاته چه اودریږمه، خبره کوم نو په دے باندے سوچ کوم چه آیا دا بجټ معنی لری چه مونږ پرے خبرے اوکړو خکه چه د خبرو نه څه جوړیږی؟ پروسکال زما خیال دے، ما د ګهنټے نه زیات تقریر کړے وو۔ ما له زما د خبرو جواب چا رانکړو۔ داسے داسے نکتے ما اوچتے کړے وے، زه ډیره زیات بخښنه غوارمه د چیف منسټر صاحب نه چه فنانس منسټر هم دے چه هغه دلته نن ناست دے چه ما ټولے خبرےدهغه په مخکښ کړے چه هغه په دے خپلو غوږو اوریدلے وے او په ځائے د دے چه هغه په مانیکروفون باندے هغه واوری یا د اسمبلئ د ریکارډ نه را واخلی، ما پروسکال چه کومے خبرے کړے وو، هغه خدشے او هغه خبرے زما په ذهن کښ نن هم ګرځی۔ ما تپوسونه کړے وو او ما له زما د تپوسونه جوابونه رانکړے شو نو زه به نن بیا تپوسونه کوم۔ آیا دا توقع د حکومت نه اوساتم چه ما له به زما د تپوسونه جواب راکړی؟ د دے د پاره نه چه زه دا غوارمه چه زه د څوک Embarrass کړم بلکه د دے د پاره چه زه خپل اطمینان اوکړم۔ چه بجټ ته زه ګورمه نو مطمئن نه یم۔ مطمئن ولے نه یم خکه چه داسے څیزونه دی پکښ چه هغه ذهن کښ بیا بیا راځی او کوشش زمونږ دا دے چه مونږ پرے ځان مطمئن کړو۔ نه مو پرے مطمئنه کوئ نو یوازے دا کیدے شی چه مونږ د حکومت نه تپوس اوکړو خکه چه حکومت اپوزیشن په اعتماد کښ نه اخلی چه بجټ جوړوی یعنی روایتاً مونږ ته وائی هم نه چه مونږه بجټ جوړو۔ څه زما خیال دا دے چه کابینه ته ئے هم په آخری ورځ کیږدی او تشه ګوته پرے ئے لګوی۔ بجټ څوک جوړوی؟ بجټ حکومت نه جوړوی، په دفترو کښ ناست خلق ئے جوړوی او هغوی ئے راوړی او دوئ ته ئے کیږدی او دوئ پرے دستخط اوکړی۔ چیف منسټر اول اوکړی او بیا ورسره کیبنټ کښینی او ورسره دوه درے ګهنټے بحث د اوکړی، وائی چه دا زما برخه، دا مے د جال برخه، دا مے طور غاړے، ټول تقسیم اخواه دیخوا اوکړی۔ قصه خلاصه شی او

مونږ ته ئے راوړی او دغسے مونږه Confuse کوی۔ عجیبه شانتے خبره ده۔ ما خو تاسو ته پروسکال هم دا خبره کړے وه او بل کال مے هم کړے وه، هر خل چه زه په بجټ تقریر کوم نو دا خبره کوم چه زه په شماریاتو نه پوهیږم او په اقتصادیاتو خو بالکل نه پوهیږم نو چه نه پوهیږمه نو د هغے اعتراف کومه او هغه خبرے کومه چه په کومه پکښ پوهیږم۔ د Annual budget programme هغه کتاب چه کوم دے، ما نن د مجبورئ نه را نه وړے شو، زه د Plethoric مریض یم، کتاب ما اوچتولے نه شو چه ما راوړے وے۔ زما لاسونو کښ دومره طاقت نه وو، هغه کتاب ما را نه وړو۔ ټول عمر Annual budget programme کښ چه کوم کتاب مونږ له راکړی نو په هغے کښ به یو طریقه کار وو۔ یو ضلع به ئے اوښودله او په آخر کښ به ئے بیا اوښودله چه د دے ضلعے دا، دا، دا پروګرام دے او په دے ضلعے کښ د بجټ Annual Developmental Programme دا دے، دے ته دومره Allocation شوے دے، دا شوے دے، دا شوے دے۔ دے خل له خو کمال کارکاردګی ورته وانی، کمال کارکردګی ده چه کتاب راواخلئ، خدائے شته که پرے پوهیږم۔ زه خو پرے نه پوهیږم، نه پوهیږم، ته به پرے هم نه پوهیږے ځکه چه په هغے کښ خو خواه سرکل جوړ کړے شوے دے او که سیکټر ئے جوړ کړے دے او که څه شے ئے داسے جوړ کړے دے چه په دے د ضلعے نوم نشته۔ نو زه خو پرے نه پوهیږمه او زما خیال دے چه تقریباً % 80 to 70 خلق به په دے بجټ پوهه نه وی۔ که تقریر پرے کوئ نو زه هم چه پرے نه پوهیږم نو هسے په هوا کښ به پرے تقریر کوم، په هوا کښ به خبرے کوم۔ داسے یو طریقه ئے جوړه کړے ده چه څوک خبر نه شی، چه څوک خبر نه شی چه Developmental programme دے څه او Developmental programme کښ چا ته څه برخه ور اورسیده؟ داسے هیڅ شے په هغے کتاب کښ نشته چه سړے د پرے خان مطمئن کړی۔ چه زه راغلم، زه یو نمائنده یم، ما له خلقو ووټ راکړے دے، زه ئے را لیږلے یم چه د هغوی د حق آواز به کوم۔ زه نه پوهیږم چه آیا زه به خپلو خلقو ته څه وایم چه ما له ئے څه راکړی دی؟ او چه څه ئے راکړی دی نو هغه خبره به روستو کوم۔ زه د دے د پاره چه بجټ تقریر چیف منسټر

صاحب اوکړو، چه فنانس منسټر هم دے، دا کتاب زما په څنګښ پروت دے، هغه په هغه Capacity کښ دا تقریر کړے دے۔ شپاړس صفحے صرف تمهید دے، شپاړس صفحے تمهید دے، وعدے دی، وعید دے، اعادے دی، تجدید دے او اعتراف دے۔ پس د شپاړسو صفحو نه، چه شپاړس صفحے ته واړوے نو د هغے نه پس بیا داسے ده چه بیا سرے په دے پوهیږی چه Actual budget ته راغلی دی او د بجټ خبره ئے کړے ده۔ زه چه څه لږه ډیره په خبره پوهیږم نو د بجټ دار و مدار چه دے، خصوصاً د دے صوبے خبره به کوم، د مرکزی بجټ حواله خو ورکولے شم خو نه ورکوم ځکه چه مرکز کښ خپله څه نشته نو ما له به څه راکړی؟ د بجټ دار و مدار چه دے زمونږ د صوبے، د هغے درے څلور واضحه نکتے دی۔ یو ستا Net profit دے، یو قابل تقسیم پول دے، یو د صوبے خپل آمدن دے، محاصل دی او څلورم چه مونږ پرے ډیر زیات Rely کوؤ هغه هر یو سکیم چه راوالئ، هغه Donor Agencies دی۔ دا څلور څیزونه چه یو ځائے کړئ نو د دے نه د بجټ د پاره یو خاکه جوړیږی۔ نو زه چه ورته دلته اوس ګورم، د دغه Net profit په مد کښ خو حکومت د خپل ناکامئ اعتراف کړے دے۔ زه به روستو په هغے لږه تفصیلی خبره کوم، حواله به د چیف منسټر صاحب د زوړ کال د تقریر ورکوم چه هغه مونږ سره په دے هاؤس کښ څه وعده کړے وه۔ چه قابل تقسیم پول کښ اوګورئ، زه نه پوهیږم او که په دے کتاب کښ غلطی شوے ده او که دغه اعداد و شمار یا Mis-print, mis-calculation, څه ورته وایئ، د 1998-1999 کوم بجټ چه پیش شوے دے، په هغے کښ 16018.598 million د قابل تقسیم پول حساب دے چه ----------

ایک آواز: فنانس منسټر او فنانس سیکریټری نشته نو تاسو تقریر چا ته کوئ؟

بیګم نسیم ولی خان: نو زه خو نه پوهیږمه دا خو د سپیکر صاحب کار دے چه هغوی دے ته اوګوری چه آیا فنانس منسټر او فنانس سیکریټری شته او که نشته، زه خو تقریر کومه۔ نوټس چه څوک اخلی، وا به ئے خلی او ما له به جواب راکړی ځکه چه جواب خو ما له هسے هم نه راکوی۔ نو زه به تاسو ته یوه خبره اوکړمه۔ تاسو زما ملګری یئ چه تاسو پرے پوهه شئ۔ دا تیر کال

1998-1999 کوم قابل تقسیم پول چه دے، د هغے حصه زمونږه 16018.598 ملین روپئ ده، سکال چه دوئ کوم Projection کړے دے، هغه ئے 16867.703 ملین روپئ کړے دے۔ زه چه ورته ګورمه، زما لږ عقل کم هم دے او جمع، ضرب او تقسیم مے لږ کمزورے هم دے، د دے دوارو فرق چه زه اوباسمه نو 849.205 اضافه شوے ده۔ په کتاب کښ دوئ وائی چه زمونږه اضافه 2268.21 ده، خو زه نه پوهیږمه چه زه غلطه یمه او که دوئ غلط دی؟ دا د اعداد و شمار غلطے چه ما نیولے دے، د دے به ما ته لږ وضاحت اوکړی چه دا شاید چه زما حساب کتاب غلط وی او دوئ په دیکښ صحیح وی۔ نو دلته بیا دا سوال پیدا کیږی چه آیا قابل تقسیم پول کښ چه زمونږه کومه حصه ده، پروسکال ئے هغه حصه راکړے ده؟ د دے څه وضاحت نشته چه دا 16018.598 ملین روپئ چه دی، دا دے صوبے ته ملاؤ شوی دی؟ که ملاؤ شوی وی نو مطلب دا دے چه زمونږ بجټ پکار دے، لکه څنګه چه مونږ چغے وهلے، بهرتئ مو کړی دی، چه مونږه سرپلس بجټ پیش کړے دے، اضافی بجټ مو پیش کړے دے، د هغے په وجه باندے به زه هم پخپله پکار دی چه پرے پوهه شو۔ دے اسمبلئ ته واضح خبره پکار ده چه اسمبلی په دے باندے پوهه شی چه زمونږه قابل تقسیم پول کښ څومره حصه کیږی او هغه مونږ له څومره حصه راکوی؟ ورپسے دویمه خبره، زه چه اهمه خبره کول غوارمه هغه زمونږ د بجلئ د مد آمدن دے چه هغه زمونږ د صوبے د بجټ یا د ترقئ یا د دے پرمختګ یا د دے د آبادئ یا د دے د سوکالئ یا د دے د خوشحالئ دار و مدار صرف او صرف په هغے حساب دے چه هغه هر کال زیاتیږی، د اے جی این قاضی د فارمولے په مطابق هغه رقم زیاتیږی ځکه چه 6.5 ارب روپو نه دوئ پروسکال چه کوم Reflection کړے دے، هغه 10466 ملین روپئ دی او بعینه پروسکال ئے هم دغه پروجیکشن کړے دے او بعینه څښکال ئے هم دا پروجیکشن کړے دے نو آیا د اے جی این قاضی فارموله دوئ پریښودله؟ او دا خو زه هغه خبره کومه چه د اے جی این قاضی فارموله زمونږه کومه ذهن کښ چه پرته ده او د هغے په رنړا کښ خبرے کوؤ، په دے اسمبلی هاؤس کښ چه هره ورځ همایون خان راپاڅی او همایون خان

سره یو کاغذ وی او وائی چه دا د سپریم کورټ فیصله ده، د هغے سپریم کورټ د فیصلے په حواله باندے زمونږ د صوبے Net profit ورته وایئ، که زمونږه د NFC Award ورته وایئ، که زمونږه د صوبے د آمدن محاصل ورته وایئ، دا د هغے نه ډیر زیات جوړیږی- دا یو تپوس هم کول غوارمه چه آیا د هغے هغه اضافے چه هر کال کیږی، تاسو پریښودے او که نه، هغه تاسو پرے نه ښودلے؟ اوس خبره دلته دا پیدا کیږی چه مونږ پروسکال 10644 ملین روپئ په بجټ کښ Reflect وے، اوس دا کتاب چه کوم مونږ سره پروت دے، زه په دے ډیره خوشحاله یمه چه دے ځل له چیف منسټر کم از کم دومره همت اوکړلو چه دا خبره ئے اومنله، د دے اعتراف ئے اوکړلو چه مونږ ته هغه حساب نه ملاویږی او په دیکښ به دومره دومره کمے راځی- اوس دا Reflection هغوی اوکړلو، په دے باندے ئے خپل بجټ Base کړلو- چه بجټ ئے په دے باندے Base کړلو نو بیا دا تپوس ترینه کوؤ چه دا پیسے تا ته ملاؤ نه شوے، یو خو دا خبره کوے چه دا هغوی مونږ ته په چه ارب باندے Cap کړی دی- اوس زما خدشات څه دی؟ زما خدشات څه دی بلکه زه دا په وثوق سره وایمه، حکومت له پکار دی چه مونږ له د دے جواب راکړی چه آیا هغه شپږ ارب روپئ دوئ ته ملاؤ دی که ملاؤ نه دی؟ زه دا وایم چه نه دی ملاؤ- زما د تسلئ د پاره د ما ته اووائی چه او، دا شپږ ارب روپئ چه دی، دا مونږ ته ملاؤ دی- زه په دے لړ کښ ډیره ضروری ګنړمه څکه چه د پراونشل اټانومی په مسئله کښ دا زمونږ روميے Step وو او بار بار چه دا مونږ ته خلق پیغورونه کوی چه تاسو نواز شریف سره روان وئ او تاسو نوازشریف سره مرسته کړے وه او تاسو نواز شریف له لاس ورکړے وو، د هغے واحده وجه دا وه چه د پاکستان په تاریخ کښ د 1973 د آئین نه پس چه کله په آئین کښ زمونږه د بجلئ منافع مونږ له راکړے شوله، د هغے نه پس په اولنی ځل، په هغے کښ حکومتونه راغلی وو چه په هغے کښ جمهوری حکومتونه هم وو، هغے کښ Elected Governments هم وو، په هغے کښ Nominated Governments هم وو، په هغے کښ مارشلائی حکومتونه هم وو، نو یو حکومت هم دا جرأت نه وو کړے چه دغه حساب مونږ له راکړی-

یو نواز شریف صاحب پہ دغہ خل باندے چہ مونږ ورسرہ وو، مونږ هغه سره دا خبره اوکړله چه اول به مونږ سره د آئین د دے شق ۰ د دے آئینی تقاضے فیصله کوے چه مونږ په دے باندے پوهه شو چه آیا ته هغه زمونږه آئینی تقاضه پوره کوے او که نه پوره کوے؟ په هغه وخت نے مونږ شکریه ادا کړے وه او زه نے بیا هم شکریه ادا کوم چه هغوی په هغه خل باندے دا مونږ سره اومنله او زه هغه Meeting له تلے وومه، محسن علی خان به دلته ناست وی، میر افضل خان د خدائے اوبخښی هغه وو او چه کله د هغے وخت وزیر خزانه لیت و لعل کولو، سرتاج عزیز صاحب وزیر خزانه وو او د هغوی دا عادت وو چه هر تاوان به ئے ورکولو نو خپلے صوبے له به نے ورکولو، نو میاں صاحب ورته اووئیل چه دا Promise ما دوئ سره کړے دے او دا خبره ما دوئ سره فیصله کړے ده او د اے جی این قاضی د فارمولے په مطابق مے کړے ده، لهٰذا دا رقم به تاسو د اے جی این قاضی د فارمولے په مطابق ورکوئ۔ هغه څه چل اوشولو چه د هغے نه پس هم هر خله، درے کاله د هغے نه پس د پیپلز پارټئ حکومت راغے نو هغه هم دغه شان دا طریقه پاتے شوه او بدبختی دا ده چه په مرکز کښې هم د هغے خلقو حکومت وو او په صوبه کښې هم د هغے خلقو حکومت وو۔ دا صوبه دومره خُله نه لری چه لاړشی او مرکز ته دا اووائی چه دا زما حق ما له راکړه، دومره جرأت نه شی کولے چه ورشی چه دا زما حق دے، دا ما له راکړه، دا زما آئینی حق دے، زما Constitutional right دے چه ما له آئین راکړے دے۔ د کله نه ئے راکړے دے؟ اوس زه دلته په دے خبره باندے مجبوره یمه چه زه نن تاسو ته د تیر کال د چیف منسټر صاحب د تقریر هغه اقتباس واوروم چه په دے لړ کښې هغوی په تقریر کښې څه ونیلی دی، هغه Quote کووم، وائی چه "جناب عالی! مجھے یہ بات پورے زور کے ساتھ دہرانے کی اجازت دی جائے کہ یہ حکومت اس صوبے کے ناگزیر مفادات کا تحفظ کرنے کا عزم رکھتی ہے۔ میں اس ایوان کو یقین دلاتا ہوں کہ صوبے کے پن بجلی کے خالص منافع کا جو آئینی حق ہے، اس پر کسی بھی طریقے سے نہ تو سودے بازی کی گئی ہے اور نہ ہی کی جائے گی۔ ہم اپنی اس پالیسی کے ساتھ وابستگی کا اعادہ کرتے ہیں کہ صوبہ سرحد کو بجلی کا خالص منافع آئین کے مطابق مشترکہ مفادات

کونسل کے فیصلے کے مطابق اور منظور شدہ طریقہ کار کے مطابق ادا کیا جائے۔ پن بجلی کے خالص منافع کے بقایا جات بھی سی۔ سی۔ آئی کے فیصلے کے مطابق ادا کئے جائیں۔ صوبائی حکومت کی کوششوں کے نتیجے میں اس کمیٹی کے کئی اجلاس ہو چکے ہیں جو وفاقی حکومت نے پن بجلی کے خالص منافع کے بقایا جات کے مسئلے کے حل کیلئے قائم کی تھی۔ صوبائی حکومت نے اس سلسلے میں ہونے والی بات چیت کے دوران یہ بات پوری طرح واضح کر دی ہے کہ کوئی ایسا فیصلہ اسے قابل قبول نہ ہوگا جس میں پن بجلی کے منافع کے بقایا جات کا تعین اے جی این قاضی کے فارمولے کے مطابق نہ کیا گیا ہو اور جس کے بارے میں سی سی آئی پہلے ہی سے فیصلہ کر چکی ہو۔ امید ہے کہ طویل عرصے تک غیر حل شدہ رہنے والا یہ مسئلہ مستقل قریب میں آخر کار حل کر لیا جائے گا اور صوبے کو اس کا جائز حق مل جائے گا۔" دا هغه پروسکنے د چیف منسټر صاحب تقریر دے، نو په هغے کښې اوس بیا تقریر ته اوګورئ چه بیا دلته راځی نو بیا هغه څه خبره کوی؟ هغه بیا دا وائی چه زه به ورسره حساب کتاب کوومه، حساب کتاب به کووم۔ ما له چه کوم رقم راکوی، دا راله راکوی او باقی نے رانه خکه نیولے دے چه زه به ورسره حساب کتاب کووم چه ما ته په صوبه کښې د هغوی بقایا جات څومره دی؟ زه تپوس کومه، شل، پنځویشت کاله اوشو چه پیسے نے هم زمونږه نیولے دی، پیسے نے هم زمونږه خوړلے دی، نه ئے دی راکړی او بقایا جات هم د هغوی مونږ ته پاتے دی، په دے حساب کتاب نه پوهیږمه، په دے مسئله مے پوهه کړے چه زه به ترینه دا، ما له به خپله حصه نه راکوی، زما به پرے قرض پورے وی؟ او چه زه ترینه قرض غواړمه نو وائی چه تا سره به اول حساب کتاب کووم۔ ما سره د څه حساب کتاب کوی؟ دا حساب کتاب راسره کوی چه دومره مے درنه په فلانی کال کښې اوخوړلے، دومره مے درنه په فلانی کال کښې اوخوړے او دومره مے درنه فلانی کال کښې اوخوړے او دا حساب کتاب به څومره وخت اخلی؟ د دے تقریر، دا په 15 جون باندے شوے دے، 15 جون 1998 کښې دا تقریر شوے دے او نن 18 جون 1999 دے، یو کال او درے ورځے ئے اوشوے، 368 ورځے، درے سوه، اته شپیته ورځے ئے اوشوے۔ زه د حکومت نه دا تپوس کوم چه آیا په درے سوه، اته شپیته ورځو کښې یوه ورځ داسے رانغله چه

دویٔ کمپنۍ او حکومت سره خبره اوکړی؟ آیا یوه کهنته مهلت هم دومره نه وی چه دویٔ لاړشی او کمپنۍ او دا خپل حساب کتاب بے باک کړی؟ او د کړی ورسره چه څه رانه اخلی، هغه د رانه واخلی، مونږ په دے نه یو خفه. چه مونږ ته د مرکز څه کیږی، هغه د رانه واخلی. مونږه د چا احسانونه نه قبلوؤ، هغه د رانه واخلی خو حساب کتاب د راسره اوکړی کنه. څنګه راسره حساب کتاب اوکړی؟ څکه راسره حساب کتاب نه شی کولے چه تاوان دے ورته. چه ما له خپلے د اے جی این قاضی د فارمولے مطابق پیسے راکوی یا د سپریم کورټ د هغے فیصلے مطابق پیسے راکوی نو دا خو خیرات نه دے چه دے به شپږ ارب ما نه Cap کړی او په شپږ اربو کښې بیا راله قسطونه مقرر کړی او بیا راله د میاشتے هغه قسط هم نه راکوی. بیا د سرکاری افسرانو د تنخواګانو د پاره د ډسټرکټ کونسل هغه پیسے، چه سر ئے اوخوړلو، راخلو او د ډسټرکټ کونسل د پیسو نه مونږه بیا هغه تنخواګانے ورکوؤ، مونږه ضروری مدونه پوره کوؤ، د پولیس پټرول پرے پوره کوؤ. په هغے باندے به هم راشمه او خبره به پرے اوکړمه. دا یو وضاحت غوارمه چه واضح پالیسی حکومت ما ته اوښائی چه په مرکز کښې د دے محاصلو چه دا زمونږ د بجلئ دا پیسے دی یا دا Net profit دے یا د این ایف سی ایوارډ دے، د دے په حواله د مرکز پالیسی څه ده او د حکومت پالیسی څه ده؟ آیا حکومت دا ورابخښلے؟ که وربخښلے ئے وی نو راته د اووائی، مونږه به هم په قلاره کښېنو او دا قوم به هم په قلاره کښېنی. دا بجټ چه دے، دا حکومت خان له دهوکه ورکوی. یو خو قوم دهوکه کوی خو دے خل له ئے خان دهوکه کړے دے. دا چه ورته ګورئ، د سرکاری افسرانو خو کار دا دے چه حکومتونه کله داسے غلط بوځی او کله ئے داسے غلط بوځی، هغه چیلی ئے ترینه جوړ کړے دی. اوره خلق خوری او د اوړو هغه ګنده لاس د چیلو په خله باندے راکاږی او وائی چه حکومت داسے اوکړلو او حکومت داسے اوکړلو حالانکه دا بجټ جوړ کړے هم سرکاری خلقو دے. (تالیاں) او پکار دا دی چه پیش کولو له ئے هم دلته د فنانس منسټر په خانے فنانس سیکرټری راوستے وے څکه چه د هغوی جوړ شوے بجټ

دے۔ که هغوی اومنل چه خپلے پیسے دے د مرکز نه اوغواړی، او به نے غواړی ترینه گنی نو په حکومت کښ دا دم خم نشته۔ زه د بلوچستان حکومت له داد ورکومه، آفرین ورته وایمه، شاباس ورکوم، بیگا نه هغه بله شپه بی-بی-سی په خپل بیان کښ اوونیل، پاکستان خاموشه دے، پاکستان تیلیویژن او نه وئیل چه بلوچستان څنگه بجټ پیش کړلو؟ 1999-2000 کا بجٹ پیش ہوگیا، ہوگیا، او بس- بی-بی-سی وائی چه هغوی د خسارے د بجټ اعلان اوکړلو- هغوی وائی چه مونږ له پیسے نه راکوی نو مونږه اضافی بجټ د څه د پاره اوکړو- زه خپل حکومت ته وایم چه جرأت اوکړئ، همت پیدا کړئ، مونږ ټول په دے لړ کښ تاسو سره یو- تاسو به هم جرأت پیدا کړے وو او د خسارے بجټ به مو پیش کړے وو- زمونږ په حساب باندے د یولسو اربو نه زیاتے روپئ دی، Reflection دوئ لس اربه کړے دے- په لس اربه کښ نے ورته شپږ اربه پروسکال ونیلی وو او هغه شپږ اربه نے ورته ورنکړلے- چه هغه شپږ اربه نے ورله ورنکړلے، څلور به نے ورکړے وے، درے به نے ورکړے وے- دے خپل بجټ په دے لسو اربو باندے Base کوی، په دے لسو اربو باندے دے خپل بجټ Base کوی، چه دا ورله ورنکړی نو د دے Base کوم خانے پاتے شولو؟ دا خو هغه یو مکان دے چه د دے د سره نه بنیاد نشته نو چه بنیاد نے نشته نو دے که په محل کښ څلور چهته جوړه وی، که لس چهته مانړئ پرے جوړه وی نو مانړئ نے ټینگیږی نه- کال له به بیا د دے خبرے اعتراف کوی چه بیا بجټ چه دے، دا مے په ضمنی بجټ کښ دا چل اوکړلو او دا مے ضمنی بجټ کښ هغه چل اوکړلو او د دے ځائے نه مے راواخستے، دلته مے اولگولے او دلته نه مے راواخستلے، دلته مے کړے- کال له به بیا هم دغه بجټ وی- درے کاله اوشولو او درے بجټه دوئ پیش کړی دی- یو ورسره مونږه په مشترکه کهاته کښ پیش کړے دے- اولنے کال وو، مشکلات وو، حالات خراب وو بیا خو دوئ وائی چه مونږ ډیر ښه مضبوط یو، زمونږ حالات ډیر ښه دی- دویم کال، دویم کال بهانه نے اوکړله، څه بهانه نے اوکړله؟ چه دهماکه اوشوله، دهماکه اوشوله او د دهماکے په نتیجه کښ دوئ چه وو، هغوی مونږ له حساب رانکړلو- زه نن

هغې خبرې له راخمه چه کله، زه تفصیلي خبره کوم، دا یو تپوس مې اوکړلو او دا تاسو ځان سره نوټ کړئ چه دا جواب به ما له راکوی چه د این ایف سی ایوارډ په حواله د مرکزی حکومت پالیسي څه ده او د دې حکومت پالیسي څه ده؟ اوس زه، رشتیا خبره دا ده چه بیا سرې خبره کوی، نو چه نه کوی نو هم نه کیږی، هغه وائی چه "نه جائے ماندن نه پائے رفتن" قیصه ده۔ چه خبره نه کوؤ نو هم نه کیږی، قوم ته خبره نه رسی، چه نه کوؤ یعنی چه کوؤ ئې نو ضمیر مو ملامته کوی چه په څه لګیا یو، خبرې کوؤ؟ چه ورته دا اووایو چه دا بجټ هغه محل دې چه په هوا کښې ولاړ دې نو په دې زه څه خبره اوکړمه؟ بحرحال یو ډیر لوټې تفصیل ئې ورکړې دې د هر یو مد۔ هم دواړه کاله چه دی، هم هغه شې دې، هم هغه دغه دې، هر ځائې کښې یو۔ صرف دومره فرق دې چه 7 %، 6 % او 8 % اضافي بجټ مونږ په فلانی مد کښې ورکړلو۔ دا د راته اووائی چه دا Inflation څومره دې؟ چه دا Inflation ورسره وایې نو آیا دوئ په دې بجټ کښې چرته د یوې پیسې، د یوې کاسیرې، د یو سُورې پیسې اضافه اوکړله؟ دا خو هغه Inflation دې چه دوئ د هغې وجې نه هغه بجټ ، او زه بیا دا خبره کول غواړم چه آیا پروسکنې بجټ چه وو، پروسکال چه دوئ کومې تخمینې لګولې وې، پروسکال چه دوئ کومې پیسې په مختلفو مدونو کښې ایښو دې وې، آیا هغه پیسې په ځائې اولګیدې؟ آیا هغه پیسه په ځائې اولګیدله؟ آیا هغه پیسو رنګ راوړې دې؟ آیا هغه پیسو د دې صوبې حالت بدل کړو په هر یو مد کښې؟ نو زه په دې ضمن کښې د ټولو نه اول د چیف منسټر هغه تقریر چه فنانس ډیپارټمنټ جوړ کړې دې او هغه شپاړس صفحې تمهید مې هم اووئیلو خو د تمهید نه پس زۀ به هم راشمه خبرو له۔ په اولیت کښې د دوئ راخې د SAP پروګرامونه۔ SAP هغه پروګرامونه دی چه هغه د بنیادمو د ژوند سره د ټولو نه نیزدې ترلې پروګرامونه دی چه پکښې صحت دې، پکښې تعلیم دې او پکښې د څښکلو اوُبه دی۔ تاسو ته پته ده چه دا د SAP د پاره دوئ چه لګیا دی او کومې پیسې ایږدی او د کومو پیسو حساب کتاب کوی، تاسو ورته اوګورئ، کتاب راواخلئ، زه هر وخت کتاب نه شم راخستې چه په ډیکښې

ځومره د ډونرز ایجنسیز پیسے دی، ځومره پیسے د ډونر ایجنسیز دی؟ زه نن تپوس کومه او دا حق لرم چه زه په دے هاؤس کښ په دے فلور باندے تپوس اوکړم چه نن خو تاسو دهماکه اوکړه، په مونږه قدغنونه اولګیدل او په مونږ پابندئ اولګیدلے او زمونږ بیرونی امداد بند شو، ولے په راتلونکی وخت کښ چه کومه مرحله مونږ ته پرته ده، په راتلونکی وخت کښ پاکستان ته چه کوم مشکل پروت دے چه یا به په دے سی ټی بی ټی دستخط کوی او یا به د دے ډونرز ایجنسیز نه پیسے آخلی۔ که دے په سی ټی بی ټی ستمبر پورے دستخط اونکړی یا د هغے نه روستو چه سی ټی بی ټی ورته کیږدی چه دستخط اوکړه، اونکړی، که اوکړی نو څه حالت به ئے وی؟ که اوکړی نو په هغه بحث نه کوومه خکه چه هغه زما کار نه دے، هغه د مرکز کار دے خو که دے په سی ټی بی ټی دستخط اونکړی نو آیا دا توقع نه ده چه دا ډونرز ایجنسیز چه دی، دا به ټول اوتښتی، تاسو له به حسابَ درنکړی او چه دا ډونرز ایجنسیز اوتښتی او تاسو له حساب درنکړی نو زه دا تپوس کوم، ستاسو چه کوم Estimates ورکړی دی، دا تخمینے کومے ورکړے دی، دا تخمینه جات چه دی، دا به ټپ نه شی؟ د تعلیم په مد کښ تقریباً پرائمری ایجوکیشن چه دے، هغه د د فارن ایجنسیز او ډونرز ایجنسیز مرهون منت دے۔ پروسکال ئے ورله ورنکړی، سکال دِ ورکړی او که سکال ئے ورنکړی، کال له به ئے ورکړی خو که دا ورنکړی نو مونږ به په دے صوبه کښ کوشش نه کوؤ۔ پکار دا دی چه مونږ حقیقت پسندانه یو نظر اولرو چه ځومره حساب مونږ سره دے، د هغه حساب تخمینه جوړه کړو، چه مونږ اووایو چه مونږ دومره زره سکولونه پرائمری او دومره سوونه سکولونه د مډل نه هائی کړل او دومره سوونه سکولونه مونږه د هائی نه هائر سیکنډری کړل، د دے قوم توقعات راوچت شی۔ دا قوم دِ سوچ اوکړی چه دا دومره زرګونه سکولونه دی او هر سړے وائی چه زما نیزدے، خواه کښ به یو سکول جوړ شی۔ هره ضلع وائی چه زما په سکولونو کښ به چرته یو سکول اپ ګریډ شی، هره ضلع وائی زما په سکولونو کښ به یو هائر سیکنډری جوړ شی او زه به خپل بچے د کالج په ځائے دلته اولیږم۔ دا

Hopes ، دا امیدونه، دا توقعات دغه وخت کښ بالکل ختم شی او مایوسی شی چه کله مونږ په دے پوهه شو چه Reality on grounds ، حقیقت چه دے، حقیقت هیڅ هم نشته دے۔ زه نن تپوس کوم چه پروسکال دوئ کوم اعداد و شمار ورکړی دی، که زه هره پاڼړه راخلم، ما ټولے ننیے کړی دی، چه پروسکال دوئ کوم اعداد و شمار ورکړے دی، پروسکال دوئ څومره سکولونه ورکړی دی، پروسکال دوئ څومره کمرے اضافے ورکړے دی، پروسکال دوئ سهولیات کوم ورکړی دی، هغے کښ څه اوشو، سر ته اورسیدل؟ نو نه دی رسیدلی۔ مونږه ایجوکیشن کمیټئ کښ ناست یو، مونږ په دے هاؤس کښ ولاړ یو، د ممبرانو سوالونه څه دی؟ په سکول چت نشته، د سکول چاردیواری نشته، په سکول کښ بلیک بورډ نشته، په سکول کښ چاک او ټاټ نشته، د بجلئ انتظام نشته، ماشومان د تندے نه مری، د اوبو انتظام نشته او بیا د هغه نه پس ټیکنالوجی ته اوونل۔ ټیکنالوجی ته اوتے دی، سکال کښ ټیکنالوجی ته اوونل۔ داسے ټیکنالوجی ته اوونل چه په اتم کښ سائنس استاد نه شی ورکولے، ټیکنالوجی ورکوی۔ دے تضاداتو ته نے اوګورئ۔ دلته خلق پاڅی، دا ممبران پاڅی، زه خو چرے نه یم پاڅیدلے، ما نه دی وئیلے، دا ممبران چه زما شاته ناست دی، هر یو پاڅی او په هر سیشن کښ وائی چه زمونږ په سکول کښ، په اتم کښ سائنس استاد نشته، په لسم کښ د سائنس استاد نشته، په هائر سیکنډری کښ د سائنس استاد نشته، کالجونه خو د اخوا کړه۔ دے وائی زه نن هائی ټیکنالوجی چه ده، Introduce کوم، زه نن په زرګونو کمپیوټرے ورکوم۔ کمپیوټر چا له ورکوئ؟ کمپیوټر به څوک چلوی؟ کمپیوټر خو به تا ته څوک Donate کړی خو کمپیوټر به چلوئ په چا؟ هغه عمله به د کوم خانے نه راپیدا کوئ؟ د لسم او د اتم سائنس ټیچر د نشته او هائر ټیکنالوجی، دا ټولے هغه خبرے دی چه زه ورته د بجټ تضادات وایم۔ د ایجوکیشن په مد کښ یو قدم چا مخکښ نه دے اخستے، تعلیمی پالیسی بدله شوے ده۔ دا دوئ چه وائی چه مونږه ډیره شفافه پالیسی کړے ده، د دے شفافے پالیسئ متعلق په دے هاؤس کښ څومره سوالونه پورته شوی دی؟ حتیٰ د چا په امتحانونو

کښې د پرچو په حواله څومره سوالونه پورته شوی دی؟ د امتحانونو په نتیجه کښې څومره مشکلات خلقو ته پیدا شوی دی؟ د خدائے په نامه، د خدائے د پاره په دے صوبے، د دے په بچو او په راتلونکی نسل رحم اوکړئ۔ یو جامع پالیسی جوړه کړئ۔ په ایجوکیشن کښې که ته جامع پالیسی جوړه نه کړے او ته چه خلق Educate نه کړے نو ته به صبائے نسل په چا جوړوے؟ ته به نوے دنیا ته، یویشتمے صدئ ته خو روان یو، یو یشتمے صدئ ته څه سره څو؟ دے پرائمری سکول سره چه الف زبر "آ" او "ب" زبر "با" وائی؟ په کلو کښې دا پرائمری ایجوکیشن صفر دے۔ زه د ښاریو د سکولونو خبره نه کوم۔ په ښاریو کښې خو اوس ماډل سکولونه Introduce کوی۔ ښاریو د پاره خو هر څه شته، هغه خو خدائے تعالیٰ هر څه ښاریو له ورکړی دی د لویو خلقو د پاره۔ زه وایم ایجوکیشن منسټر له پکار دی، د ایجوکیشن عملے له پکار دی چه دوئ لږ دے کلو ته اوځی، دوئ خواری اوکړی، دوئ لږ د دے خپلے عملے کارکردګئ ته اوګوری چه د دوئ د عملے کارکردګی څومره ده، د دوئ د سکولونو حالت زار څه دے؟ چه باران اوشی، چهتې ده، که نُورتیز شو نو چهتې ده، که سیلئ راغله نو هم چهتې ده۔ دا د چُهتو دا حدود کوم ځائے ختمیږی؟ دا ټولے هغه خبرے دی چه دے قوم ته ایښودل غواړی۔ هاں که حکومت ته مشکلات وی او دے وائی کنه، او دے وائی لکه د بلوچستان پشانته، چه نه شم پیش کولے، نشته، په دے مد کښې هم پیسے نشته، په دے کښې هم نشته، په دے کښې هم نشته، د نرانو هسے خبره د او کړی، په ځائے ولاړه مستحکمه خبره د اوکړی، په ځائے ولاړه مستحکمه خبره د اوکړی او داسے خبره د نه کوی چه د خلقو او د قوم زړه پرے دردوی او خواه مخواه تضادات پخپله پالیسئ کښې کوی۔ اوس وریسے دویمه پاڼړے کښې د تعلیم نه پس راځی، زما په خیال ما هم نوټس آغستی دی دا درے ستاسو دے SAP پروګرام کښې، دا یوه خبره د ایجوکیشن مسئله زما هیره شوه چه چیف منسټر په خپل تیر تقریر کښې وئیلے دی چه "ناقابل تبادلہ تقرریو ں کے ذریعے" دا "ناقابل تبادلہ تقرریاں" چه دی، د دے لږ وضاحت به غواړمه۔ زه به اوس راشم د صحت مد له۔ د صحت په مد کښې حکومت ډیرے

لونے دعوے اوکړے، پروګرامونه ئے ورله جوړ کړل، پیکجز ئے ورله ورکړل، سیټلایټ هسپتالونه جوړ شو، دلته ما جوړ کړل، هلته ما جوړ کړل، د دے هسپتال نه ما هلته عمله اولیږله، دلته نه مے دلته راولیږله۔ دا دا کتاب وائی۔ سینکشن شوے عمله نشته، هسپتالونه د قرضو په عملو چلیږی او د ټولو نه لویه خبره چه زه پکښ کول غواړم د هسپتالونو په مد کښ، د هسپتالونو حالات دا دی چه د دے خائے نه ایډمنسټریټران راغلے دی، هسپتالونه ئے پاک کړی دی، صاف کړی ئے دی، ستهرا کړی ئے دی خو ستهرا هسپتال به څه کړے؟ مریض، وا ئے غوندی، او ئے خوری؟ دارو دی، د دارو پیسے نشته۔ هلته د سهولتونو د پاره پیسے نشته۔ کیجولټو ته ورشئ، د کیجولټو دومره بد حال دے، زه به خبره نه کوم، محسن علی خان به په خپل تقریر کښ خبره اوکړی چه هغه بله شپه، د شپے دوه بجے د ده په لور درد راغلے وو او دے کیجولټئ ته تلے وو، ده سره څه حشر شوے دے؟ دا محسن علی‌خان دے چه دے دلته وزیر هم پاتے شوے دے، دے وزیر خزانه هم پاتے شوے دے، په هر دورکښ په اقتدارکښ پاتے شوے دے او په هر دورکښ یو نوم ئے سورشوے دے۔ د ده یو خان له حیثیت هم شته علاوه د دے نه چه دے ممبر هم دے، ده سره داسے کیږی نو د غریب سړی به څه حالت وی په هسپتالونو کښ؟ یوه خبره دلته په وضاحت کول غواړم۔ حکومت بار بار یوه خبره زمونږ نظر له راولی، د دے ټولے اسمبلئ د پاره کوم، یوازے د اپوزیشن د پاره نه کوم چه مونږه هسپتالونو له اقتصادی او انتظامی‌خود مختاری ورکوؤ، دا به تاسو هم اوریدلے وی او دا مونږه هم اوریدلے ده او په کمیټئ کښ د هیلته سیکرټری صاحب مونږته دا خبره کړے ده۔ زه یوه خبره دلته په وضاحت سره کوم چه د اقتصادی او انتظامی‌خود مختارئ نه مطلب څه دے؟ که د دے نه مطلب دا وی چه دا موجوده کوم د دے Users' charges دی، دا موجوده د دوئ کوم انکم دے، دا موجوده د دوئ چه کومے پیسے دی، دا د ورځے اخلی او د کیجولټی او د او-پی-ډی په حواله هغه د پینځو روپو په چټ د دیرشو او د شلو روپو په ایکسرے یا چه دوئ چه چا له ای-سی-جی کوی، دا پیسے اخلی او دا ورکوی هسپتال له نو

ربښتيا خبره دا ده چه زمونږ نه ډير خوشحاله به پرے هيڅ څوک هم نه وی خکه چه دا يو ډير غلط طريقه کار دے چه د هسپتال پينځه روپئ مونږ اخلو او هغه په خزانه کښ ورواچوؤ او په خزانه شمار ناست وی او بيا خزانه واپس هغه محکمے له نه ورکوی۔ دا طريقه کار به داسے او شی چه دا هسپتالونه به د يو حده پورے Ecnomically په خپلو پښو اودريږی۔ انتظامی خود مختاری خو ورله ډيره ضروری ده خو که د دے مطلب دا وی لکه يوه اشاره چه راغلے ده۔ يوه اشاره راغلے ده چه حکومت په هسپتالونو کښ سی ټی سکين د بهر نه د نجی ادارے سره په شراکت باندے لګوی۔ نتيجه به ئے څه وی؟ نتيجه به ئے دا وی چه سی ټی سکين چه کوم بهر په شپږ زره روپئ تا له يو ايکسرے کوی، سی ټی سکين درله کوی، حکومت په هغه باندے يو قسم سبسډی ورکوی په هسپتال کښ، هغه په ارزان قيمت کيږی۔ ته چه د بهر سړے خان سره راولے، ته ئے خان سره په هسپتال کښ کښينوے، آيا هغه به ستا دا خبره اومنی چه هغه د په دے حساب باندے غريب سړی له سی ټی سکين اوکړی؟ که دا طريقه تاسو داسے کوئ يا تاسو اقتصادی خود مختاری ورکوئ هسپتالونو له چه هسپتالونو کښ دِ دَ ايډمنسټريټر اختيار وی څکه چه په هسپتال کښ آپريشن، په آپريشن تقريباً، په ايوريج آپريشن باندے درے زره روپئ خرچ راځی او دا هسپتال د يو غريب سړی نه سل روپئ اخلی چه په هغے مونږ دلته ډير شور کړے وو، که ستاسو فکر وی دا مخلوق دومره غريب دے چه تاسو ئے اندازه نه شئ لګولے۔ که د دے ايرکنډيشنډ دفترونو نه بهر ته خلق اووتل نو پته به اولګی چه دا قوم څومره غريب او ناچاره دے۔ هغه سړے چه سل روپئ نه شی ورکولے نو صبا له به ايډمنسټريټر وائی چه درے زره روپئ په هسپتال کښ په آپريشن باندے خرچه ده، دا درے زره روپئ ورکړه نو دا غريب سړے به کوم خوا ته ځی؟ دا يو جواب دِ ما له راکړی۔ که د اقتصادی خود مختاری دوئ دے ته وائی چه دا خود مختاری ورله ورکوؤ چه ايکسرے به ورله په سل روپئ کښ او سی ټی سکين به ورله په شپږ زره روپئ کښ او بلډ ټيسټ به ورله په دوه سوه روپئ او په درے سوه روپئ کښ او ای سی جی او دا نور الټرا ساونډ چه

دی، دا به یو شپږ گنا ورله ته په قیمت کړے نو زما خیال دے چه که داسے خود مختاری مونږه هسپتالونو له ورکړه نو غریب قام به هیڅ چرته پاتے نه شی۔ د هغوی به هډو مداوا پاتے نه شی۔ او یوه خبره دے سره بله هم کوم چه کله د بهر، د پرائیویټ هسپتالونو او د گورنمنټ هسپتالونو قیمتونه یو شان شی، اخراجات یو شان شی نو دا به دلته لیکلے اووایم چه یو سړے به د مور پلار آزار نه وی وهلے چه په هغه پیسو هغه لیډی ریډنګ هسپتال ته خی په کومو چه هغه په میډیکل سنټر کښ آپریشن کولے شی۔ یو خاص ذاتی توجه ورته کیدے شی۔ د دغه هسپتالونو په حواله زه دا خبره په ریکارډ راوستل غوارم، د دے احتجاج به زه په کمیټئ کښ کوم، د دے احتجاج زه دلته هم کوم او د دے احتجاج به زه حکومت وقت ته هر وخت کوم چه که د قوم نه دا سهولت هم واخستے شی، د ډسپرین گولئ ورله نه ورکوئ، دا سپرټ او Swab ورله نه ورکوئ، ډسپوزبل سرینج ورله نه ورکوئ، د آپریشن د گنډلو تار ورله نه ورکوئ، قینچئ پخے شوے دی، سامان زنګ آلود دے، د دے هر څه باوجود که تاسو په خلقو دا Users' charges دے حده پورے اولګول نو په دے یقیناً پکار دا دی چه د حکومت دا ممبران هم احتجاج اوکړی ځکه چه دا هم د هغه خلقو نمائنده گان دی۔ *(تالیاں)* دا د دے حکومت Nominated خلق نه دی چه دلته نے کښینولی دی۔ دا قوم رالیږلی دی او صبا له به قوم ته جوابده وی۔ دوئ ته هم دا وایم چه دا خطره ده۔ دے خطرے ته اوګورئ هسے نه چه تاسو هیلتھ ډیپارټمنټ تاسو په دے دهوکه کړی چه دا پیکج به داسے وی او دا پیکج به هغسے وی۔ خدائے شته او خدائے به وی چه یو پیکچ، هیڅ څه رونړو نشته۔ تش پیکجونه دی او تش نومونه دی او دا څومره کمیټئ چه جوړے شوے دی، څومره کمیټئ چه جوړے شوے دی، څومره دغه چه اوشو نو په دیکښ هیڅ پیشرفت نه دے شوے۔ مونږ خو هغه خلق یو چه هسپتالونو کښ لوغړیږو توغړیږو۔ مونږه هغه خلق یو چه خلقو سره، عام خلقو سره، عام پبلک سره خو، کښینو او پاسو۔ دا د صحت په مد کښ د هسپتالونو حالت یوازے ما ته نه ټول قوم ته معلوم دے خو د دے یوے خبرے نشاندهی زه ضرور کول غوارمه او د دے وضاحت به د

حکومت نه غوارم- اوس به راشو د ژوند د ټولو نه اهمه خبره چه په دریمه نکته راغلے ده په کتاب کښ، هغه د ښنکلو اُوبه دی- د ښنکلو اُوبه د هر بنیادم د ژوند ضرورت دے- په هوا پسے اُوبه داسے شے دے چه د دے نه بغیر ژوند، بنی نوع انسان د دے نه بغیر ژوندے نه شی پاتےکیدے- یو ساده شان تپوس کوم چه دا څومره سکیمونه دوئ ورکړی دی او پروسکال تیار شوی دی او دا څومره سکیمونو سکال دوئ اعاده کړی دی، جوړیږی او که نه جوړیږی خکه چه د ښنکلو د اوبو، د اوبو په مد کښ چه دوئ کوم حساب ورکړے دے، په بجټ کښ نے Reflect کړے دے، د هغه بجټ د نیمے نه زیاته حصه چه ده، هغه د ډونرز ده نو که کله د هغه ډونرز حساب رانه شی نو دا پراجیکټس به بالکل دغسے پاتے شی- خو د هغے دغه سره سره دا تپوس هم کوم چه حکومت تر اوسه پورے دا پالیسی وضع نه کړے شوه چه تر اوسه پورے زمونږ په حلقو کښ، دا بیا درته د دے ممبرانو د مشکلاتو خبره کوم چه دا ممبران دلته اودریږی، سوالونه هم ورته تیار وی، التواکانے او کال اټینشن نوټسسز هم ورکوی او دا تپوس کوی چه زما کوهے دے، دا کوهے به کله چالو کیږی؟ یا هغه بله ورځ چه څنګه واقعه اوشوه- دے کښ دوه قسمه کوهیان دی، چه کوم ممبران خبره کوی، ما خو تاسو ته پخپله اوونیلے چه ما هیڅ کله نه حکومت له د خپلے حلقے شکایت راوړے دے او نه ورله شکایت راوړم- دا وضاحت زه د دے خپلو ممبرانو په حواله کوم چه کله په کمیټو کښ د دوئ سره ناسته یم نو د دوئ دا یو شکایت دے چه دا کوهیان چه تاسو جوړ کړی دی د ټیوب ویل، دا ټیوب ویلز چه تاسو جوړ کړی دی، دیکښ دوه Categories ټیوب ویلز دی یو Category هغه ده چه تاسو ورکړے ده- په هغے وخت کښ، هغه 1992-93 هر کله چه ده په هغے کښ ورکړے دی، په هغے کښ تاسو دا معاهده نه وه کړے چه تاسو به Users' charges ورکوئ- هغه طریقه کار دا وو چه یو سړی به یو کنال یا دوه کناله زمکه ورکړله، ټیوب ویل به حکومت جوړ کړو، حکومت به د هغوی دوه کسان واخستل او هغه ټیوب ویل به حکومت چلوؤ- یو دا قسم ټیوب ویلز دی- دویم قسم ټیوب ویلز راغلل چه کله SAP والو، د بهر

خلقو، ډونرز دوئ له پيسے ورکړے نو هغه ډونرز ايجنسيز دوئ باندے دا قدغن کيښودو چه تاسو به Users' charges اخلئ او د هغے د لاندے هغوی يوه معاهده اوکړله د هغے خلقو سره چه په کوم کلی کښ به نے کوهئ جوړولو- بالکل، حکومت دا حق لری چه چا سره ئے معاهده کړے ده نو د هغے معاهدے د لاندے چه په چا باندے څومره Users' charges دی، موږ د هغے د حق خبره کوؤ څکه چه که قام ټيکس ورنکړی، هغه ټيکس چه جائز ټيکس دے، يو حق دے د حکومت چه وا ئے خلی چه خپل کاروبارِ حکومت پرے اوچلوی خو دا چه روستو کوم ټيوب ويلز ئے بند کړی دی، چه کوم د 1985 نه راروان دی، د هغے متعلق د حکومت وقت پاليسی څه ده؟ آيا هغه بندوی؟ زه ورته يو Suggestion کوم چه دا د ټولو ممبرانو د زړه آواز دے، زما شا ته ناست بلکه د هغے ممبرانو به هم وی چه د حکومت شاته ناست دی- هغوی دا وائی چه دا ډير لوئے سکيمونه چه دوئ موږ له راکوی، لکهونه روپئ پرے لګوی، د دے لکهونو روپو په ځائے د دوئ هينډ پمپس ورکړی خلقو له- هينډ پمپس د ورکړی او په يو هينډ پمپ باندے به درے، څلور او د پينځو کوُرو يو کميونټی کار کوی- په يو کلی کښ به لس پنځلس هينډ پمپه ورکړئ، چارجز ئے د بجلئ نشته او د مرمت اخراجات ئے هم نشته- يو چه هينډ پمپ کله خراب شی نو د کلی سړے به په دے مجبور وی چه هغه به هغه کښ ځی يا به ئے واشر خراب وی او يا به ئے يو بل شے خراب وی نو هغه مجبور دے چه هغه به ځی- دے ته به نه کښينی چه حکومت ته به درخواست کوی او بيا به PC-I جوړيږی او بيا به PC-II جوړيږی او بيا به خزانے ته ځی او د خزانے نه به وزير له راځی، د وزير نه به سيکرټری له ځی، دا قصے به پکښ نه وی- دا به يوه ډيره آسانه طريقه وی- يو دا دے چه ګرندے طريقه ده- ټيوب ويل په څومره وخت کښ جوړيږی، هينډ پمپ په څومره وخت کښ لګی- يا د دے نه علاوه لږ لوئے، د دغے په حساب لږ لوئے کوهيان د جوړ کړی چه په هغے باندے وړے موټرے لګيدلے وی- د هغے موټر کميونټی به په آسانتيا باندے خرچه او Maintenance چه دے، هغه قبول کړی- زما خيال دے چه که حکومت په خپله پاليسئ کښ لږ لچک

راوستو، خبرے ئے هغه خلقو سره اوکړے چه څوک ئے ورله ورکوی، چه ورته دا اووائی چه دا معاشره تر اوسه پورے دغه حد ته رسیدلے نه ده، زمونږ کمیونټی لا Educate شوے نه ده۔ یقینی خبره دا ده چه په ټول دنیا کښې چه که څوک اُوبه استعمالوی، حساب ورکوی، که بجلی استعمالوی نو حساب ورکوی، که ټیلیفون یا ګیس استعمالوی نو هم حساب ورکوی خو زمونږ په معاشره کښې اوسه پورے دا تصور د خلقو نشته۔ دا سوال ئے په ذهن کښې کښینولے نه شی چه هغه به اوبه څښکی، وائی دا د خدائے تعالیٰ اوبه دی۔ د خدائے تعالیٰ اوبه به څښکی او د هغے اوبو به ته ترینه پیسے اخلے۔ د دے د پاره به کمیونټی اول Educate کول غواړی۔ اول کمیونټی له به تلل غواړی، هغوی به په دے پوهول غواړی خو مخکښې د دے نه چه کمیونټی Educate نه ده، آیا حکومت به داسے پالیسی نه کوی چه دے خلقو له اوبه ورکړی، د تندے نه به ئے وژنی؟ لوئے لوئے ډیمونه، دا لوئے لوئے منصوبے او د لویو لویو بندونوخبره خو هډو کولے نه شئ۔ هر کال چه کتاب راخی نو د ټولو لویو منصوبو نومونه پکښې راغلے وی او هغے له بلین ها پیسے ایښودے شوے وی۔ تپوس مونږ کوؤ، جواب مونږ له څوک نه راکوی چه پروسکال مو ورله دومره بلینه روپئ ایښودے وے، هغه پرے چا اولګولے ماسوائے د پیهور هائی لیول کینال نه چه د هغے متعلق واضح خبره راغلے ده چه مونږ دومره پیسے د هغے د پاره مختص کړے وے او هغه پرے اولګیدے، هغه مو ورته ریلیز کړے دی او د هغے نه علاوه مو هم ورته ریلیز کړے دی۔ دا یو خوش آئند خبره ده څکه چه پیهور هائی لیول کینال چه دے، دا د دے صوبے په معیشت به ورته اووایم څکه چه هغه منصوبه د اوبو نه ده، هغه د زراعت ده، هغه به په هغه لړ کښې راشم او خبره به پرے اوکړم، دا یوه ډیره اهمه منصوبه ده۔ اوس د هغے نه پس بیا عام د ژوند داسے محکمے چه په هغے زه غواړم چه صرف دوه دوه منټه، ډیرے اوږدے خبرے نه کوم۔ تاسو به هم زما د خبرو نه دغه یئ چه خبره ئے دومره لویه راواخستله۔ سړکونه ئے راخستے وو او د سړکونو د پاره که زه دا کتاب راواخلم او درته ئے اوښایمه نو یو لوئے رقم ئے د سړکونو د پاره ایښودے

دے۔ تپوس ترے نه کوم چه پروسکال تاسو چرته رقم ایښودے وو او که مو نه وو ایښودے؟ هغه پروسګنے رقم څه شو او چرته لاړو؟ او دا سړکونه. زه خو کم از کم چه په کوم طرف ګرځمه نو ما په سړکونو کښې چرته نوے سړک او لوئے سړک نه، مرمت مو هم او نه لیدو۔ یو سړک دے، لوئے سړکونه به جوړوئ، د بهر نه چه کومے پیسے درځی، هغه به کوئ خامخواه۔ تر تارانه پورے سړک هم جوړیږی او یو بل سړک دے، هغه به هم جوړیږی ځکه چه د هغے پیسے تاسو نه ورکوئ، د بهره راځی، مرکز درکوی او د مرکز مهربانی په یو خاص طرف ده۔ هغه مهربانی هم یو طرف ته ده۔ که نه وی نو زه ترے نه تپوس کوم چه دوئ د هغه نه تر نارانه پورے سړے بوځی، آیا د درګئ نه تر کالامه پورے دا سړک ضروری سړک نه دے؟ آیا د دے منظوری نوازشریف صاحب په تیر دورکښې نه وه ورکړے؟ نو که ورکړے ئے وه نو دے ځل دا په Priority د ایښودو نه وو؟ دیخوا راوځلئ، زه به د خپل روټین د خبرو نه مخکښې لاړه شمه۔ چه زه په کوم روټین راروانه یم او په کوم دغه باندے راوانه یم، په هغے کښې به زه راوانه شم او زه به تاسو ته هغه تعمیراتی پروګرامونه اوښایم چه حکومت تاسو له درکړی دی۔ تعمیراتی پروګرام باندے خو به زه روستو راتلم حو د هغے د پاره چه تاسو وایئ چه فلانکی سړک فلانکے، دا ما ته اووایئ، په دیکښې مانسهره او ناران، جک دلک روډ دے، په دیکښې ایبټ آباد باړیاں نتهیاګلی روډ دے، څوارلس سوه ملینه او پنځ نیم سوه ملینه، نو په دیکښې داسے نه شوه کیدے چه دلته لاندے ئے ورته لیکلے وے درګئ کالام روډ او که د سیاحت په حواله باندے ناران او نتهیاګلی هغه ځائینو د هزارے، زه د دے خبرے بالکل قائله یم چه هزاره کښې هم ډیویلپمنټ پکار دے ځکه چه د سیاحت په اعتبار باندے څومره زمونږ دا کوهستان او دا علاقے ضروری دی، دغسے هغه هم دی حو دا ده چه یو انصاف به کوئ کنه۔ چه یو سړک هلته ورکوئ نو یو دلته ورکړئ کنه۔ د دے سوات خلقو څه ګناه کړے دے؟ څه تقصیر ئے کړے دے چه دا سړک د 1993 نه Pending پاتے دے؟ زما یاد شی او داسے یاد شی لکه دا ساعت چه میاں نوازشریف صاحب چه په 1993 کښې پرائم منسټر وو او

سوات ته راغے، اعظم ورسره وو، ورته ئے وانیل چه دا د دے خانے نه واخله د کالامه پورے سړک جوړ کړه او اوخیژه متلتان ته، دا خانیونه خان هم پیژنی، سوات خان ئے پیژنی، متلتان ته اوخیژه خکه چه متلتان ته مغوی تلے دی او د هغه خانے خانست ئے لیدلے وو او هلته ئے هغه تالاؤ لیدے وو او د سیاحت په حواله هغه د دے افادیت محسوس کړے وو نو چه په 1993 کښ د یو ځیز افادیت وو نو نن په یویشتمه صدئ کښ د هغے ځیز افادیت نشته؟ په دے زه سخت احتجاج کوم۔ که خان د پاره وے خو زما حلقه نه ده، زما حلقه پکښ نه راځی او نه مو د حلقے خبره کوله۔ د علاقے خبره، د دے صوبے خبره ده، د سیاحت خبره ده۔ هغه شے، ته پرے Generation کولے شے، په هغے ته تاوان نه کوے۔ سیاحت واحد یو شے دے په دے صوبه کښ چه په دے باندے ته پیسے جوړولے شے۔ په دے که ته تاوان اوکړے نو ته په دے پیسے جوړولے شے۔ نن چه په پاکستان کښ د سیاحت د پاره میدان ځومره واضح پروت دے، ځومره فراخ پروت دے، ځومره خلق تاسو ته متوجه دی، د هغے نه تاسو استفاده واخلئ۔ دوه ځیزه دی چه د هغے په مد کښ تاسو پیشرفت اوکړئ، یو زراعت او یو سیاحت، چه په دیکښ پیشرفت اوکړئ نو د صوبے حالت به بدل شی۔ نو زراعت سره ئے څه کړے دی؟ هغه به هم درته اووایمه۔ د سیاحت په حواله خو دغه خبره ده چه یو سړک دے چه درګئ نه ختلے دے د کالامه پورے او د کالامه نه بره تلے دے اوشوو، اوتروړه پورے او د هغے نه مخکښ د متلتان پورے۔ داسے حالت ئے دے، داسے حالت ئے دے، یقین اوکړه سپیکر صاحب، ستاسو په وساطت دے ټولے اسمبلئ ته وایم چه لږ پرے لاړ شئ۔ زما غوندے کمزورے سړے که پرے لاړ شی، خدائے شته چه هلته چه لاړ شی نو تبے نیولے وی۔ زه نه پوهیږم چه دا خان چهتئ له ځنګه ځی او ځنګه راځی؟ هر سړی له پکار دی چه هیلی کاپټر واخلی۔ دومره خراب سړک دے، دومره سړک دے چه خلقو دا غوره کړله چه دے چکدرے ته اورسی نو د چکدرے نه په شموزو راتاؤ شی او سوات ته اوځی او د دغلته نه بیا په شا شا تاؤ شی نو باغ ډهیری سره بره کالام، مدین ته او بحرین ته ځی نو آیا دا سړک د دے تقاضه نه کوی چه دا د

جو ړشي؟ آیا دا د دے صوبے حصه نه ده؟ آیا دا د دے صوبے د پاره د سیاحت لارنه آزادوي؟ که نه هلته خانست کم دے؟ یو مهو ډهنډ، ورشئ او یو مهو ډهنډ اووینئ نو د سوئټزرلینډ ټول تالابونه به درنه هیر شي- دلچسپي د چا نشته، دغه هومره خبره ده- چه کوم خائے کښ د حکومت دلچسپي ده هلته لګیا دي- ناران هم ډیر ښه دے، زه خپله خو تلے نه یم، خلق ئے ډیر صفتونه کوي- ډیره ښه ده چه ناران ته هم مونږه اورسوؤ او ډیره ښه ده چه بارېاں نتهیاګلي روډ خو بارېاں نتهیاګلي روډ باندے خو زه چه کله، د نن نه دوه درے کاله مخکښ تلے ووم نو هغه خو د مال روډ د سړک هغسے سړک وو او هغه به هم داد ورکړم میاں صاحب نوازشریف له چه هم د هغوی په وخت کښ شوے وو- د هغے Widening شوے وو، د هغے Surfacing شوے وو- دا هغه خبرے دي چه دا کول غواړم زه- د دے وجے نه نه چه زه د حکومت سره اختلاف کوم- زه د دے خنو خبرو نشاندهی کول غواړمه چه دا خبرے په ریکارډ راشي چه ما دا خبرے په اسمبلئ کښ کړے وے، ریکارډ دي چه خلق خبر شي چه اپوزیشن، اپوزیشن چه کله خبرے کوي نو دا د اختلاف د پاره نه کوي، دا د بهترئ د پاره کوي- اوس یو بل ډیر لوئے مد راغلے دے، " تعمیر وطن"- اوخاندئ ټول- (قہقہے / تالیاں) ټول اوخاندئ او ښه په برق برق اوخاندئ- په برق برق اوخاندئ خکه چه دا د خندا مد دے- تعمیر وطن، پروسکال په یکم جولائي باندے د تعمیر وطن د پاره څلورسوه ملینه روپئ مختص شوے ولے چه دا دلته ناست اتیا کسه دي، یو یو کس له به پنځوس پنځوس لکهه روپئ ورکوي- نو زه دلته کښ تپوس کوم، تش یو تپوس کوم، د نورو ممبرانو نه یم خبر، یو تپوس کوم- د یو وزیر، د بلدیاتو وزیر دے او که مشر دے او که هر څوک ئے دے، ما ته دا پته هم نشته دے چه څوک کوي؟ د هغه وزیر صاحب نه یو تپوس کوم چه زما حلقے له د څومره پیسے ورکړي دي او کله د ریلیز کړي دي؟ کله به ئے ریلیز کوئ؟ کال تیر شو که نه؟ هاں، زما خیال دے نن اتلسم تاریخ دے، دولس ورځے پس

-------

ایک آواز: داپوزیشن -------

بیگم نسیم ولی خان: نه، د اپوزیشن خبره به روستو کوم۔ زه اول خپله اوکړم چه دا او نه وائی چه تا له مو پیسے درکړے دی۔ دولس ورځے په کال کښې پاتے دی۔ نن لسمه ورځ ده یا پنځلسمه ورځ ده چه ما ته نے شل لکهه روپئ ریلیز کړے دی او لس لکهه روپئ راته نے د ډسترکټ کونسل ریلیز کړے دی۔ دا تپوس کو م چه تاسو دے ممبرانو سره نیکی کوئ که بدی کوئ؟ بیا سبا له وایئ ټینډر ئے اونکړو، سبا له وایئ پراجیکټ ئے اونکړو، سبا له وایئ غلا ئے اوکړله، سبا له وایئ Percentage ئے واغستو۔ چه ته هغه له دومره بریک ورنکړے، موقع ورنکړے چه هغه دِ ټینډر اوکړی نو ته ما ته اووایه، ما خو دا خپله حلقه کښې ونیلے دی چه زما به یو انچ، یو پیسه هم بے د ټینډر نه نه کیږی او چه چا ته مو حواله کړے دے، د هغوی احسانمنده یمه چه سکیمونه ئے وختی ورکړے وو او چه څنګه ریلیزز اوشو نو ټینډر ئے کړل۔ زه په دے د هغے خلقو تپوس کوم، زما شاته دا خلق چه ناست دی، زه نه پوهیږم چه دوئ ته به ئے څه ریلیز کړے وی او کله به ئے ورته ریلیز کړے وی ------

آوازیں: هیڅ هم نه -----          (تالیاں)

بیگم نسیم ولی خان: چا له به ئے څه ورکړے وی او څه به ئے نه وی ورکړے نو چه تاسو له ئے نه دی درکړے او ما له راکړی، مطلب ئے دا دے چه زه دا خُله بنده کړمه، دا ئے مطلب دے؟ که تاسو له ئے یو پیسه نه وی درکړے، دا ئے مطلب دے چه زه دا خُله بنده کړمه۔ زما دا خُله خو یو د مرګ په ډماما بندیږی نور په هیڅ نه بندیږی۔ (تالیاں) په هیڅ څیز نه بندیږی۔ چه کومه ناجائزه کیږی، کوم زیاتے د اپوزیشن سره کیږی، کوم انتقامی کارروائی د اپوزیشن سره کیږی، اپوزیشن سره نه، حکومتی ډلے کښې هم چه چا سره زیاتے کیږی نو هغوی د پاره هم آواز اوچتومه او د هغوی خبره هم کوم۔ زما خُله نه شی بندولے۔ (تالیاں) ما له خو ئے شل لکهه روپئی راکړے، چه ما له دوه سوه لکهه روپئی راکړی نو هم به خُله نه بندوم، ټولے خبرے به کوم۔ زه نه پوهیږم، زه نه پوهیږم چه پنځلس ورځے مخکښې، ما سوچ کوؤ چه دا پنځلس ورځے مخکښې ناساپه په ما دا مهربانی، دا باران د

روپو ولے اوشو؟ او په ما دا مهرباني د کوم خانے نه اوشوله؟ ما خو درخواست هم نه دے کړے. وایم چه کوم شرط ئے پکښې ایښے دے؟ چه چیف منسټر ته درخواست اوکړئ، ما خو درخواست نه دے کړے. ما له ئے ولے راکړے؟ ما له ئے رشوت راکړو، "الراشی وا لمرتشی کله هم فی النار" والا قصه ده. زه ئے د خان سره هسے دوزخی کړم. (قہقہے) زه ئے هسے دوزخی کړم، دے خو دے دوزخی (قہقہے/تالیاں) زه ئے خان سره دوزخی کړم چه ما هغه قبولے کړے. ما په څه قبولے کړے؟ چه زما بچی راغلل او ما ته ئے اووے چه بی بی، ریلیزز شوے دی او پکښې وخت ډیر زیات لږ دے، که تاسو اجازت کوئ چه مونږ ټینډر اوکړو. زما دا خیال وو چه چونکه په دے باندے، په کټ فنډ باندے بحث شوے وو په تیر Requisite session کښې نو دوئ دا محسوس کړے ده او دے ټولو ممبرانو له ئے دا شل شل لکهه روپئی ورکړے. خدائے شته، خدائے حاضر دے که زه په دے پوهه وے چه زما ممبرانو له ئے نه وے ورکړے نو ما به د دے ټینډر چرے هم نه وے کړے. دا به ما واپس یوسف ایوب خان له ورکړے وے چه چرته یو بهتر ځائے کښې ئے لګولے وے یا به ئے چیف منسټر له ورکړے وے. صوابدیدی هغه کوټه وه، صوابدیدی اختیاراتو کښې چه چا له، Un-elected چا له ئے ورکولے، هغوی له به ئے ورکړے وے. نظر کرم زما په ضلع ډیر زیات دے، هغه خبره به ورته کومه. د ټولو نه د آمدن یو بله ذریعه چه زه ورته وئیلے شم د دے صوبے، هغه ځنګلات دی. څومره ځنګلات چه په دے پاکستان کښې خدائے تعالیٰ زمونږ صوبے له ورکړے دی، په ټول پاکستان کښې نشته او که د دے ځنګلاتو دڅمل ئے او د دے روغنے او پروخنے او د دے د ترقئ او د ساتنے انتظام مونږ کړے وے نو ډیره ممکنه ده، ډیره ممکنه ده چه زمونږ یو ډیر لوئے د آمدن مد چه وو، هغه به د دے ځنګلات نه وو. ولے زه چه ورته ګورم، زه نه، دا ټوله صوبه چه ورته ګوری، د ځنګلاتو آفادیت صرف دومره دے چه ځنګلونه کټ کړه او خرڅ ئے کړه. ټمبر مافیا، کله ئے په دے لاره راوړه او کله ئے په دے لاره راوړه او زه دا خبره د دے هاؤس په دے فلور کوومه او ډیر په وثوق ئے کوم چه محکمه پکښې شریکه ده. که محکمه

په غلا کښې شریکه نه وی نو انفرادی طور څوک غلا کولے نه شی- د حکومت مال خوړل ډیر ګران کار دے- د حکومت دولت خرابول ډیر ګران کار دے- دا هله کیږی چه محکمه ورسره پخپله شریکه وی او ډیره ممکنه وی چه کوم سړے نے کوی، د هغه Percentage به کم وی او د محکمے Percentage به زیات وی- که وی، ناست به وی، دلته تپوس ترے نه اوکړئ په پښتي شا زما نه، درته حال به اووانی- ډیر خلق به وی خو زه یو خواست کوم حکومت ته د نوے ځنګلونو د لګولو پروګرام د جوړکړی- دا ډونرز چه راځی او په ټولو ځبرو کښې ستاسو سره کمک کوی، دا ډونرز چه راځی او په هر مد کښې تاسو له حسابونه درکوی، داسے خلق Encourage کړئ چه هغوی راشی او د ځنګلاتو په مد کښې تاسو سره کمک اوکړی- تاسو له ځنګلونه اولګوی او تاسو ته طریقے اوښائی چه هغه ځنګلونه تاسو Protect کړئ، هغه ځنګلونه تاسو لوئے کړئ، هغه ځنګلونه د قام په هغه خیر ښیګړه راولئ ځکه چه بوټے دومره شوی نه وی یعنی شپږ انچه تنه ئے نه وی، چا به ریبلے وی، ورلے به نے وی- که نوړځه نه وی نو کور له به ترے یو تیر خو جوړ کړی، یوه برګه به ترے جوړه کړی یا یوه ډاګه به ترے جوړه کړی-زما نه زیات د ځنګلاتو د حال نه ځان خبر دے، تپوس ترے اوکړئ، په دے دِ هغه پخپله رنړه واچوی- زه د هغوی شرافت ته چه ګورمه نو زما زړه غواړی چه زه هډو خبره اونکړم خو ځنے خبرے دی چه نشاندهی ئے اونکړم نو بیا به خلق وائی چه خبره ئے اوکړله او دا نے پکښې پریښوه- د مرکز د تعمیراتی پروګرام خبره خو ما تاسو ته اوکړله چه په هغے کښې هغوی کوم کار کړے دے؟ د میرے او د خپلے مور، هغه خبره مے درته خلاصه کړله- دغے ضمن کښې ډیره اوږده خبره کول نه غواړم خو چه مرکز مونږه له کوم تعمیراتی پروګرامونه راکوی، پکار دا دی چه د هغے ټوله ذمه داری هغوی پخپله واخلی او هغوی ئے سَر ته اورسوی راله- دا داسے منصوبے دی، نیشنل هائی وے ده، که انډس هائی وے ده او که موټروے ده نو دا د حکومت کار دے چه هغوی ئے اوکړی- دا په مونږه د څه خبرے احسان کوی چه موټروے له به دومره بلین، ملین درله درکړی؟ دا موټروے، دا

